Ontario

د روغتیا وزارت

# د کوویډ-19 واکسین معلومات پاڼه

5.0 نسخه - اپریل 1، 2021

دا سند یوازې لومړني معلومات وړاندې کوي او د دې هدف د طبي مشورې، تشخیص یا درملنې، او یا قانوني مشورې وړاندې کول یا ځای نیول ندي.

تر دې دمه، د کاناډا روغتیا اداري لاندې د کوویډ-19 واکسینونو ته په کاناډا کې د کارولو اجازه ورکړې ده:

د فایزر- بایونټیک کوویډ-19 واکسین، د ماډرنا کوویډ-19 واکسین، د استرازنیکا کوویډ-19 واکسین، کوویشیلډ کوویډ-19 واکسین، او جانسن کوویډ-19 واکسین. د جانسن کوویډ-19 واکسین په اړه معلومات به په دې سند کې هغه وخت اضافه شي چې کاناډا ته یې اکمالات تایید شي. په کاناډا کې د استعمال لپاره ټول د کوویډ-19 واکسینونه د کاناډا روغتیا اداري لخوا د سختو معیارونو په کارولو سره ارزول شوي دي. د کاناډا روغتیا اداره به ټولو واکسینونو څارنې ته دوام ورکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دا خوندي او موثره دي.

**مهرباني وکړئ دا معلومات پاڼه په دقت سره ولولئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ټولې پوښتنې د واکسین ترلاسه کولو دمخه د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي لخوا ځواب شوي دي.**

## کوویډ-19 څه شی دی؟

کوویډ-19 یو عفونت دی چې د نوي کورونا ویروس (SARS-CoV-2) له امله رامینځته کېږي. کوویډ-19 د لومړي ځل لپاره په دسمبر 2019 کې پیژندل شوی و او له هغې راهیسې کرده نړۍ کې خورېدو سره د وبا سبب شوی دی.
کوویډ-19 په عام ډول د یو ککړ تن څخه نورو ته هغه وخت کې انتقالیږي چې ککړ ترټوخی وکړي، پرنجی وکړي، سندره وایي، خبرې کوي یا ساه راکاږي. دا خبره یادول مهم دي چې ککړ کسان دا عفونت هغه وخت هم خورولی شي چې خپله علامې نلري. د کوویډ-19 په علامو کې ټوخی کول، د ساه لنډېدل، تبه، ساړه، ستړیا او د بوي یا ذایقې د حس له لاسه ورکول شاملېدلی شي. ځینې کسان چې په ویروس ککړ شوي وي هیڅ علامې نلري، په داسې حال کې چې نور داسې علامې لري چې د خفیف نه تر شدید پورې توپیر لرلی شي.

### د کوویډ-19 واکسینونه څرګه د کوویډ-19 څخه حفاظت کوي؟

ټول واکسینونه زمونږ بدن ته د یو داسې څه په ورکولو کار کوي چې هغه د عفونت په څېرښکاري تر څو زمونږ د بدن حفاظتي سیستم زده کړي چې څرګه طبعي حفاظت تولید کړي. دا طبعي حفاظت بیا په راتلونکي کې د مریضۍ مخنیوی کوي که چیرته تاسو راتلونکي کې د کوویډ-19 ویروس سره مخامخ شئ. **د واکسین نه تاسو ته کوویډ-19 نشي ګېدلی.**

په دې اړه چې د کوویډ-19 واکسینونه څرګه حفاظت برابروي نور تفصیلي معلومات د Public Health Ontario's (PHO) COVID-19 Vaccines ویبپاڼه او په What You Need to Know About COVID-19 او همدارګه په COVID-19 Vaccines: Viral Vector-Based Vaccines. کې موندل کېدلی شي.

**د کوویډ-19ټول واکسینونه چې کاناډا کې یې د کارولو اجازه ورکړی شوې د علامو، لابراتوار څخه تایید شوي مریضۍ څخه حفاظت کې اغېزمن دي.** په سترو تحقیقاتي مطالعو کې کومو کې چې خلکو ته د واکسینو دواړه خوراکونه ورکړی شوي وو ټولو واکسینو په دې کې ډېرښه کار کړی و چې د خلکو د علامو لرونکي، لابراتوار کې تایید شوي کوویډ-19

Ontario

ځخه د مریضیدو مخنیوی وکړي. د واکسین اغېزمنتیا د لومړي خوراک ځخه 14 ورځې وروسته او د دویم نه مخکې د فایزر/بیاینټېک او ماډرنا لپاره 90 فیصده‌ټکل شوی او استرازنکا/کوویشیلډ لپاره 70 فیصده. د واکسین اغېزمنتیا د سپارښتني شوي وقفي ځخه وروسته دویم خوراک سره فایزر/بایټېک او ماډرنا لپاره د 90 فیصد نه زیات او استرازنکا/کوویشیلډ لپاره د 80 فیصد نه زیات‌ټکل شوې ده. دا مهمه ده چې تاسو ته ددې واکسینو دوه خوراکونه درکړی شي). د کووید-19 ځخه اوږدمهاله حفاظت تر هغه وخته نشي ترلاسه کېدلی تر ځو چې دویم خوراک نه وي ګـول شوی. **ټول هغه د کووید-19 واکسینونه چې کاناډا کې یې د کارولو اجازه ورکړی شوې ده روغتون کې له بستري کېدو په مخنیوي کې هم ډېر اغېزمن دي.**

## دا واکسینونه چاته ګـول کېدلی شي؟

د واکسینو یو بشپړ تسلسل باید هغو افرادو ته وړاندي کړی شي چې واکسینو له امله کومې ستونزې سره نه مخ کېږي او دا مهال د لومړیتوب په پېژندل شوو ډلو کې وي.

- کووید-19 لپاره د فایزر/بایوټېک د واکسینو اجازه دا مهال هغو افرادو لپاره ورکړی شوی چې عمر یې 16 کاله یا زیات وي.
- کووید-19 لپاره د ماډرنا د واکسینو اجازه دا مهال هغو افرادو لپاره ورکړی شوې چې عمر یې 18 کاله یا زیات وي.
- کووید-19 لپاره د استرازنکا د واکسینو او کوویشیلډ اجازه دا مهال هغو افرادو لپاره ورکړی شوې چې عمر یې 18 کاله یا زیات وي. په دې وخت کې د ایمني کولو په اړه د ملي مشاورت کمیټه (NACI) سپارښتنه کوي چې کووید-19 لپاره د استرازنکا واکسین او کوویشیلډ باید 55 کالو نه کم عمر والا بالغانو لپاره ونه کارول شي.

ددې خبرې د معلوملو لپاره چې آیا تاسو دې وخت کې د واکسین ترلاسه کولو مستحق یاست لطفاً د اونټاریو د کووید-19 د واکسینو پلان ته مراجعه وکړئ.

### د واکسین ترلاسه کولو دمخه، د روغتیا پاملرني چمتو کوونکي خبر کړئ ځوک چې تاسو ته واکسین درکوي که:

- تاسو اوس مهال د ناروغۍ احساس کوئ یا د کووید-19 نښې او علایم لرئ.
- تاسو پخوا د کووید-19 واکسین یا د کووید-19 واکسینونو، یا بل کوم واکسین د اجزاوو په وړاندې حساسیتي غبرګون‌ښودلی وي.
- تاسو کوم ډول حساسیت یا حساسیتي ناروغي لرئ.
- تاسو حامله یئ یا کیدلی شي وئ یا طفل ته شیدې ورکوئ.
- د ناروغۍ یا درملنې له امله مو دفاعي سیستم زیانمن شوی وي یا د ذاتي دفاعي سیستم (آټو امیون) د ناروغ په ټګه مو تشخیص شوی وي.
- د پخواني واکسین کولو یا عملیات سره تاسو بې هوښه شوي یاست، یا د ستني کولو اړوند د لوړې کچې ویره لرئ. د روغتیا پاملرني چمتو کوونکی ممکن ستاسو د ملاتړ لپاره تاسو ته د مرستې وړاندیز وکړي، د بېلګې په ټګه د دې وړاندیز کول چې تاسو واکسین په ملاستې وکړئ تر ځو د بې هوښۍ مخه ونیول شي.
- تاسو د خونریزۍ ناروغي لرئ یا داسې درمل کاروئ چې کولی شي د وینې په‌ټوټې کېدلو باندې اغیزه وکړي. دا معلومات به د روغتیا چمتو کوونکي سره مرسته وکړي چې د ستني ځخه د خونریزۍ یا زخمي کېدلو مخه ونیسي.
- تاسو په تیرو 14 ورځو کې بل کوم واکسین ترلاسه کړی وي (د کووید-19 واکسین نه).

Ontario

د ځانګړي نفوس لپاره د واکسین سپارښتنې لارښود سند د هغو خلکو لپاره اضافي معلومات وړاندې کوي چې طفل ته شېدې ورکوي یا امیندواره وي، حساسیت لري، د ذاتي دفاعي سیستم (ټټو امیون) ناروغي لري، یا د ناروغۍ یا درملنې له امله یې دفاعي سیستم زیانمن شوی وي، او همدارګه د هغو نویو ځوانانو لپاره چې د کوویډ-19 څخه د جدي پایلو له خورا لوړ خطر سره مخ وي. که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې ایا ستاسو د طبي حالت پراساس واکسین کول درته سم دي او کنه تاسو باید د خپل روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي سره وغږیږئ.

## څوک باید د دې واکسینو په ترلاسه کولو کې ځنډ وکړي؟

- هغه اشخاص چې په تیرو 14 ورځو کې یې بل کوم واکسین ترلاسه کړی وي (د کوویډ-19 واکسین نه).
- هغه اشخاص چې د لنډمهالي ناروغۍ نښې لري؛ دا اشخاص باید تر هغه وخته انتظار وباسي چې نښې په بشپړ ډول حل شوي وي ترڅو د ناروغۍ له امله رامینځته شوي اختلالاتو مخنیوی وشي ترڅو د واکسین پورې اړونده اغیزو ته زیان ورسوي.
- هغه خلک چې د کوویډ-19 نښې لري. د کوویډ-19 د انتقال خطر کمولو لپاره، که چیرې دا اشخاص د واکسین کلینیک/محل ته ورشي، دوی ته به لارښوونه وشي چې د سیمه ایزې عامې روغتیا ادارې اوسني اقدامات تعقیب کړي او معایناتو کولو ته به وهڅول شي.
- د کروناښکاره اوښې علامې لرونکي اشخاص چې د مشکوک یا تایید شوي کوویډ-19 انفکشن له امله یا د کوویډ-19 قضیې سره د نږدې اړیکې له امله ورته د ځان منزوي کولو ویل شوي باید د واکسین کلینیک ته حاضر نه شي او انتظار وباسي تر څو د واکسین ترلاسه کولو ترمخه د دوی د انزوا موده پای ته ورسیږي.

## واکسین څرګه ګول کیږي؟

واکسین د یوې ستنې په توګه د څګل پاسنۍ برخه (د ډیلتوید عضله) کې ګول کیږي. ولایت د ایمنې کېدو د ملي مشاورت د کمېټې په دې سپارښتنو عمل کوي چې کوویډ-19 لپاره د فایزر/بایونټک، ماډرنا او استرازنکا/کوویشیلډ د واکسینو د لومړي خوراک نه وروسته تر دویم خوراک پورې وقفه تر 4 میاشتو پورې اوږده وکړي.

- د فایزر/بایونټک د واکسینو لپاره د لومړي خوراک څخه دویم خوراک پورې سپارښتنه شوې وقفه 4 میاشتې ده.
- د ماډرنا واکسینو لپاره د لومړي خوراک نه وروسته دویم خوراک پورې سپارښتنه شوې وقفه 4 میاشتې ده.
- د استرازنکا او کوویشیلډ واکسینو لپاره د لومړي خوراک نه وروسته دویم خوراک پورې سپارښتنه شوې وقفه 4 میاشتې ده.

افرادو ته باید د واکسینو د بشپړ تسلسل لپاره د کوویډ-19 یو واحد واکسیني تولید وګول شي (یعني یو فرد ته باید د هماغه یو واکسین لومړی او دویم خوراک وګول شي) د مختلفو ډولونو واکسینونه (لکه mRNA، viral vector) باید مختلف واکسینونه ګڼل شي او باید په یو واحد تسلسل کې ونه کارول شي.

# په واکسینونو کې شامل مواد څه شی دي؟

| شامل مواد | | فایزر/بایونټیک | ماډرنا | استرازنیکا/او کوویشیلډ |
|---|---|---|---|---|
| طبي | | • mRNA | • mRNA | • غیر نقل والا ویرل وېکټور (ChAd) |
| غیر طبي | لیپیډ | • ALC-0315<br>• ALC-0159 – a polyethylene glycol (PEG)<br>• Distearoyl--1,2 sn-glycero-3-phosphocholine (DSPC)<br>• کولېټرول | • distearoyl--1,2 sn-glycero-3-phosphocholine (DSPC)<br>• کولېټرول<br>• PEG2000 DMG SM-102 | • Disodium edetate dihydrate (EDTA)<br>• ایتانول<br>• L-Histidine<br>• L-Histidine hydrochloride monohydrate<br>• Polysorbate 80 |
| | مالګې | • Dibasic sodium phosphate dihydrate<br>• Monobasic potassium phosphate<br>• Potassium chloride<br>• Sodium chloride | • Acetic acid<br>• Sodium acetate trihydrate<br>• Tromethamine<br>• Tromethamine hydrochloride | • Magnesium chloride hexahydrate<br>• Sodium chloride |
| | شکر | • سوکروز | • سوکروز | • سوکروز |
| | | • پیچکارۍ لپاره اوبه | • پیچکارۍ لپاره اوبه | • پیچکارۍ لپاره اوبه |

دی لیست ته په احتیاط سره کتنه کول مهم دي څکه چې ځینې خلکبن‌ایي د **polyethylene glycol (PEG)**، او **polysorbate 80** او/یا **tromethamine** په شمول دې شاملو موادو سره حساسیت ولري. خو دا ډېر شاذ و نادر حساسیتي غبرګونونه رامینځته کوي. Polyethylene glycol (PEG) په داسې تولیداتو کې موندل کېږی لکه دوایاني، کولونسکوپي لپاره د کولمو د چمتو کولو تولیدات، جلابیات، ټوخي شربتونه، د سیګـار تولیدات، د پوستکي ملهمونه، هغه طبي تولیدات چې په پوستکي او د عملیاتو پر مهال کارول کېږي، د غاښونو پاسته‌کنټکټ لینسونه او د کنټکټ لینسونو د حل مواد. Polyethylene glycol همدارازد د خوراک او څښاک تولیداتو کې موندل کېدلی شي، خو د خوراک او څښاک څخه یې حساسیتي غبرګونونه معلوم ندي. Polysorbate 80 په طبي تولیداتو په چمتو کوونکو (لکوېټینامیني تیلو ګـولو، او سرطان ضد مواد) او د سیګـار تولیداتو کې موندل کېدلی شي. Tromethamine د کنټراست میډیا، د خولې او پارینترال دوایانو یوه برخه ده.

## د واکسین جانبي عوارض څه شی دي؟

د کوویډ-19 واکسینونه، د نورو واکسینو په څیر، ممکن د جانبي عوارضو لامل شي ، که څه هم هرڅوک دا نه تجربه کوي او کوم کسان چې دا تجربه کوي اکثرا د کوچنیو جانبي عوارضو راپور ورکوي. د کوویډ-19 واکسین ترلاسه کولو وروسته ډیری عام راپور شوي جانبي عوارض ځایي غبرګونونه دي په شمول د ستني کولو ځای کې درد، سوروالی یا پړسوب، ستړیا، سر درد، د عضلاتو درد، د مفصلونو درد، لړزه او خفیفه تبه.

پدې کوویډ-19 واکسینونو باندې روانې مطالعې څېړنې چې تر نن‌ېټې موندل شوي جدي جانبي عوارض **ډیر نادر** دي. هغه خلک چې پدې مطالعاتو کې یې واکسین ترلاسه کړیدي د اوږدمهاله جانبي عوارضو لپاره څارل کیږي.

د کلینیک کارمندان چمتووالي لري چې د پیښېدلو په صورت کې شدید حساسیتي غبرګون اداره کړي. کله چې د کوویډ-19 واکسین دویم ډوز ترلاسه کوئ، **نو د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي ته څوک چې تاسو ته دویم ډوز درکوي وواياست که چیرې تاسو د لومړي ډوز وروسته کوم ډول جانبي عوارض درلودل.**

په ډیر ندرت سره، د استرازنیکا/کوویشیل واکسین د واکسین کولو وروسته د یو غیرمعمولي وینې‌ټوټه کیدو سره تړاو لرلی دی. ډاکټران دا د "vaccine-induced prothrombotic immune [thrombocytopenia](#)" (VIPIT) په نوم یادوي. دا د وینې‌ټوټې دوه مهمې ځانګړتیاوې لري: دا د واکسین کېدلو وروسته له 4 څخه تر 20 ورځو پیښیږي، او دا ټیټ پلیټلیټونو (د وینې هغه کوچنۍ حجرې چې خونریزۍ مخنیوي لپاره د وینې‌ټوټې جوړیدو کې مرسته کوي) سره تړاو لري. داسې معلومیږي چې VIPIT ډیر نادر پیښیږي، په هر 125,000 خلکو کې له 1 کس څخه تر هر 1 میلون کسانو کې 1 کس ته پیښیږي. دا حالت د 55 کالو څخه کم عمر لرونک میرمنو کې خورا عام دی. مهرباني وکړئ د نورو معلوماتو لپاره [VIPIT Following AstraZeneca COVID-19 Vaccination](#) وګورئ.

[د کاناډا روغتیا اداري](#) دا حالت ارزیابي کړی او دا یې پېګوته کړي چې د کوویډ-19 څخه د کاناډایانو په ساتنه کې د استرازنیکا /کوویشیل واکسین‌ګټې د هغې د خطرونو په پرتله ډیری دي. د وینې‌ټوټه کیدل عام دي، په ځانګړي توګه په زړو خلکو کې. په خپله کوویډ-19 د وینې‌ټوټه کولو سره تړاو لري، څکه نو د کوویډ-19 ټول واکسین لاهم د هغو خلکو لپاره وړاندیز کیږي چې په تیرو وختونو کې یې د وینې‌ټوټه کېدلو ستونزه درلوده، یا هغه څوک چې د وینې‌ټوټه کیدو موروثي سابقه لري او د وینې نري کولو درمل کاروي.

## زه څېل د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي ته کله باید تلیفون وکړم؟

که تاسو داسې جانبي عوارض تجربه کړئ چې تاسو اندېښمن کوي یا داسې نه برېښي چې د څو ورځو وروسته د مینځه لاړ شي، نو خپل د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي سره اړیکه ونیسئ یا د روغتیا پاملرنې غوښتنه وکړئ.

که چیرې د واکسین کولو وروسته د دریو ورځو په موده کې لاندې ذکر شوی کوم یو منفي غبرګون ولرئ نو **نږدې عاجلې څانګې ته لاړ شئ یا 911 ته زنګ ووهئ:**

- لړمي

Ontario

- د مخ یا خولي پړسوب
- په ساه اخیستلو کې ستونزه
- د رنګ زیات پیکه والی او جدي بېخوابي
- لوړه تبه (له 40 سانتي‌ګرېډ څخه پورته)
- تشنج یا حمله راتلل
- نورې جدي علامې (د بیګې په توګه، ستني چوخېدل یا بې حسي)

که تاسو د استرازنیکا /کوویشیل واکسین کړی وي او تاسو د واکسین کولو وروسته لاندې کومه یوه علامه ولرئ، **سمدلاسه روغتیایي پاملرنه ترلاسه کړئ:**

- ساه لنډي
- په سینه کې درد
- په لاس یا پښه کې پړسوب یا سوړوالی
- پګېډه کې دوامداره درد
- جدي یا مخ په خرابېدو سر درد یا د نظر تتبدل
- متعدد کوچني زخمونه، سره یا ارغواني رګه خاپونه یا د پوستکي لاندې وینه لرونکي‌تڼاکي

همدارګه تاسو کولی شئ د خپلې سیمه ایزې عامې روغتیا څانګې سره د پوښتنو کولو یا منفي غبرګون راپور ورکولو لپاره اړیکه ونیسئ.

## د خپل دویم ډوز واکسین لپاره کله بیرته راشم؟

که دا ستاسو د کوویډ-19 واکسین لومړی ډوز وي، نو دا یقیني کړئ چې خپل دویم ډوز واکسین لپاره بیرته راشئ لکه څنګه چې تاسو ته د واکسین کلینیک لارښوونه کړې یا د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي چا چې تاسو ته لومړی ډوز درکړیدی. دا مهمه ده چې تاسو د واکسین دوه ډوزه ترلاسه کړئ څکه چې د کوویډ-19 پرورړاندې محافظت تر هغه وخته پورې مطلوبه نږه نلري تر څو چې د واکسین دویم ډوز ترلاسه نشي. کله چې د واکسین دویم ډوز لپاره راځئ نو خپل د واکسین ریکارډ له ځانه سره راوړئ. **دا خورا مهمه ده چې تاسو دویم ډوز ترلاسه کړئ ولو که تاسو په اول ډوز کې جانبي عوارض هم لرل.**

## که کومه پوښتنه لرم نو باید چا سره تماس ونیسم؟

که تاسو کومه پوښتنه لرئ نو مهرباني وکړئ خپل د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي یا هغه شخص سره چې واکسین درکوي اړیکه ونیسئ.